أَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى مَا يَمْحُو اللهُ بِهِ الْخَطَايَا، وَيَرْفَعُ بِهِ الدَّرَجَاتِ؟

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «أَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى مَا يَمْحُو اللهُ بِهِ الْخَطَايَا، وَيَرْفَعُ بِهِ الدَّرَجَاتِ؟» قَالُوا بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ: «إِسْبَاغُ الْوُضُوءِ عَلَى الْمَكَارِهِ، وَكَثْرَةُ الْخُطَا إِلَى الْمَسَاجِدِ، وَانْتِظَارُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الصَّلَاةِ، فَذَلِكُمُ الرِّبَاطُ». "آیا زه تاسو ته هغه څه ونه ښایم چې په دې سره الله تعالی ګناهونه له منځه وړي او درجې لوړوي؟» هغوی وویل: هو، اې د الله رسوله: هغه وفرمایل: «په سختیو کې اودس بشپړول او جوماتونو ته زیات قدمونه اخیستل او له یو لمانځه وروسته بل لمانځه ته انتظار کول، نو همدا د الله په لار کې وتل دي».

[صحيح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپلو اصحابو څخه وپوښتل چې آیا دوی غواړي د داسې اعمالو لارښوونه ورته وکړي چې د ګناهونو د بخښنې لامل ګرځي، او د پرېښتو له کتابونو څخه پاکیږي او په جنت کې د مرتبو د لوړېدو لامل ګرځي. صحابه کرامو وویل: هو، مور همدا غواړو. هغه وفرمایل: لومړی: په سخت سره اودس کول او بشپړول. لکه سړه هوا، د اوبو کموالی، د بدن درد، او ګرمې اوبه. دویم: ډېر قدمونه وهل – د دوو پښو تر منځه واټن – له کور څخه لرې جوماتونو ته تلل، او دا کار ډېر تکرارول. دریم: د لمانځه د وخت انتظار کول، له هغه سره زړه ټرل، لمانځه ته تیاری نیول او په جومات کې د جماعت د ادا کولو انتظار کول، نو کله چې لمونځ ادا کړي، د لمانځه په ځای کې بل لمانځه ته انتظار باسي. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم په ډاګه کړه چې دا درې کارونه په حقیقت همدا د الله په لار کې وتل دي؛ ځکه چې دا په نفس د شیطان لارې بندوي، خواهشات ماتوي او د وسوسو مخه نیسي، نو په دې توګه د الله ډله د شیطان لښکرو ته ماته ورکړي او همدا تر ټولو لوی جهاد دی، او دا دښمن ته په پولو د ودرېدلو په څېر دي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3574